**داطفالو داصلاح او روزنې د مرکزونو قانون دتوشېح په هکله دافغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

**ګڼه : (۱۴۱)**

**نېټه :۱۳۸۷/۱۰/۲۲**

**لومړۍ ماده :**

دافغانستان داساسي قانون دنهه اويايمې مادې دحکم له مخې ، داطفالو داصلاح او روزنــې د مرکزونو قانون چې دوزيرانـــو شوري د ۱۳۸۷/۹/۱۱ نېټــې (۴۱) ګڼه مصوبې پربنسټ په (٦) فصلونو او (۴۲) مادو کې تائيد شوی دی توشېح کوم .

**دوه يمه ماده :**

دعـــدليې وزير او په پارلـــماني چاروکې ددولت وزيرمؤظـــف دي ، دغه فرمان دملي شـــوري

**فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در باره توشيح قانون مراکز اصلاح وتربيت اطفال**

**شماره :(۱۴۱)**

**تاريخ :۲۲/۱۰/ ۱۳۸۷**

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم مادۀ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان ، قـــانون مراکزاصلاح وتربيت اطفا ل را که به اساس مصوبۀ شماره (۴۱) مؤرخ ۱۱/۹/ ۱۳۸۷ شـــورای وزيران به داخـــل (٦) فـــصل و (۴۲ ) ماده تائيد گرديده است ، توشيح می دارم .

**مادۀ دوم :**

وزيـــر عـــدليه ووزير دولت در امور پارلمانی مؤظف اند ، ايـــن فرمان را در خـــلا ل(۳۰) روز

Download from: aghalibrary.com

دلومړنۍ غونډې دجوړېدوله نېټې څخه د(۳۰) ورځو په ترڅ کې، هغې شورې ته وړاندې کړې .

**درېيمه ماده :**

دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

از تاريخ انعقاد نخستين جلسۀ شورای ملی ، به آن شوری تقديم نمايند.

**مادۀ سوم :**

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ وهمراه با قانون در جريدۀ رسمی نشر گردد .

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

Download from: aghalibrary.com

## فهرست مندرجات قانون مراکز اصلاح و تربیت اطفال

### فصل اول

### احکام عمومی


| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول : | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم : | نگهداری مظنون ،متهم و محکوم | ۱ |
| مادۀ سوم : | نگهداری وحجز | ۲ |
| مادۀ چهارم : | رعایت حقوق بشری | ۳ |
| مادۀ پنجم: | محدودیت حقوق | ۴ |
| مادۀ ششم: | برخورد کارکنان با اطفال تحت حجز | ۵ |


### فصل دوم

### بخش های مراکز اصلاح و تربیت اطفال


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ هفتم : | بخش ها | ٦ |
| مادۀ هشتم: | انتقال به بخش باز | ۷ |
| مادۀ نهم : | حالات عدم استفاده از بخش باز | ۸ |
| مادۀ دهم : | جدانگهداشتن اطفال اناث از ذکور | ۹ |


### فصل سوم

### تنظیم مراکز اصلاح و تربیت اطفال


| | | |
|---|---|---|
| مادۀ یازدهم : | ایجاد مراکز اصلاح وتربیت اطفال | ۹ |
| مادۀ دوازدهم: | نگهداری اطفال مظنون ومتهم یا محکوم به حجز | ۱۰ |


Download from: aghalibrary.com

مادۀ سیزدهم : شورای عالی مراکز اصلاح وتربیت اطفال........۱۱
مادۀ چهاردهم: جلسات شورای عالی مراکز اصلاح و تربیت اطفال...........................................۱۴
مادۀ پانزدهم: پیشنهاد تعدیل ووضع اسناد تقنینی ...............۱۵
مادۀ شانزدهم: تأمین امنیت مراکز اصلاح وتربیت اطفال........۱۵

## فصل چهارم

## عرضه خدمات در مراکز اصلاح و تربیت اطفال

مادۀ هفدهم: معیشت...........................................۱٦
مادۀ هجدهم: اعاشه .........................................۱۷
مادۀ نزدهم: خدمات صحی....................................۱۸
مادۀ بیستم: رعایت قواعد صحی..............................۱۹
مادۀ بیست ویکم: فراهم ساختن زمینۀ کار ، تعلیم ،آموزش وعبادت.۲۰

## فصل پنجم

## طرز سپری نمودن مدت حجز

مادۀ بیست ودوم: ترتیب دوسیه ...................................۲۰
مادۀ بیست وسوم: مفاهمۀ ضروری در حالات خاص...............۲۱
مادۀ بیست و چهارم: ارتباط با فامیل.................................۲۲
مادۀ بیست و پنجم: تدفین ..........................................۲۲
مادۀ بیست وششم : رخصتی ........................................۲۳
مادۀ بیست و هفتم: مکلفیت های اطفال تحت حجز..................۲۵
مادۀ بیست و هشتم: جدا نگهداشتن (قرنطین)........................۲٦
مادۀ بیست ونهم: تلاشی ..........................................۲۷

مادهٔ سی ام: تشویق.......................................۲۷
مادهٔ سی ویکم: تأدیب .......................................۲۸
مادهٔ سی ودوم : درج تشویق و تأدیب در دوسیه..................۲۹
مادهٔ سی وسوم: شکایات.......................................۳۰

## فصل ششم

## احکام نهائی

مادهٔ سی وچهارم: انتقال .......................................۳۱
مادهٔ سی و پنجم: رهائی طفل متهم..................................۳۲
مادهٔ سی وششم: رهائی طفل محکوم به حجز.......................۳۳
مادهٔ سی وهفتم : نظارت از مراکز اصلاح وتربیت اطفال..........۳۴
مادهٔ سی وهشتم: کمیتهٔ نظارت.....................................۳۵
مادهٔ سی ونهم: دخول به مراکز اصلاح وتربیت اطفال..........۳٦
مادهٔ چهلم: نقش جامعه مدنی.....................................۳۸
مادهٔ جهل و یکم: تهیه فلم و راپور..................................۳۹
مادهٔ چهل ودوم: انفاذ...............................................۳۹

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنيٰ**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان داساسي قانون په څلورپنځوسمه ماده او د طفل د حقوقو په کنوانسیون کې د درج شوو ارزښتونو له په پام کې نیولو سره، د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې د مظنونو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو د بیا روزنې په منظور، وضع شوی دی.

**د مظنون، تورن او محکوم ساتنه**

**دوه یمه ماده:**

(۱) مظنون او تورن اطفال د تحقیق او محاکمې تر بشپړېدو پورې

# قانون مراکز اصلاح و تربیت اطفال

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول :**

این قانون با نظر داشت ارزش های مندرج مادۀ پنجاه و چهارم قانون اساسی افغانستان و کنوانسیون حقوق طفل به منظور اصلاح وتربیه اطفال مظنون، متهم و محکوم به حجزو تأمین حقوق آنها در مراکز اصلاح و تربیت اطفا ل وضع گردیده است .

**نگهداری مظنون،متهم ومحکوم**

**مادۀ دوم:**

(۱)اطفال مظنون ومتهم الی اکمال تحقیق ومحاکمه صرف در مراکز

**يوازې د اطفالو د اصلاح او روزنې په مركزونو كې ساتل كېږي.**

**(۲) په حجز محكوم اطفال له احوالو سره سم يوازې د اطفالو د اصلاح او روزنې په پرانستو او تړلو مركزونو كې ساتل كېږي، خو دا چې قانون بل ډول حكم كړی وي.**

**ساتنه او حجز**

**درېيمه ماده:**

**(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې په مركزونو كې د مظنونو او تورنو اطفالو ساتنه، د قانون د حكمونو مطابق يوازې د څارنوال يا دواكمنې محكمې د قرار پر بنسټ صورت مومي.**

**(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې په پرانستواوتړلومركزونو كې د اطفالو حجز د محكمې د وروستي حكم پر بنسټ صورت مومي.**

**(۳) د عدليې وزارت،ددې مادې په (۱او ۲) فقره كې د درج شوو قرارونو او حكمونو د تطبيق مرجع دی.**

**اصلاح وتربيت اطفال نگهداری می شوند.**

**(۲) اطفال محكوم به حجز حسب احوال صرف در بخش های باز يا بسته مراكز اصلاح وتربيت اطفال نگهداری می شوند، مگر اينكه قانون طوری ديگرحكم نموده باشد.**

**نگهداری وحجز**

**مادۀ سوم :**

**(۱) نگهداری اطفال مظنون ومتهم در مراكز اصلاح وتربيت اطفال مطابق به احكام قانون صرف به اساس قرار څارنوال يا محكمۀ ذيصلاح صورت می گيرد.**

**(۲) حجز اطفال در بخش های باز يا بسته مراكز اصلاح وتربيت اطفال بر اساس حكم نهائی محكمه صورت می گيرد.**

**(۳) وزارت عدليه مرجع تطبيق قرار ها و احكام مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده می باشد.**

## د بشري حقوقو په پام کې نيول

**څلورمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو کار کوونکي، څارنوالان، قاضيان او نور هغه اشخاص چې په يو ډول نه يو ډول له مظنونو، تورنو او په حجز له محکومو اطفالو سره سر او کار لري، مکلف دي د اړوندو دندو د اجرأ په وخت کې اسلامي حکمونه او د بشر د حقوقو موازين په پام کې و نيسي، له هغو سره له هر ډول توپير پرته، په ناپلوۍ سره چلند وکړي.

(۲) د مظنونو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو معيشتي شرايط د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د ادارو لخوا په داسې توګه برابرېږي چې له رواني اغېزو څخه خلاص وي او د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې د هغوی د حقوقو د ضايع کېدو او دآزادۍ د مخنيوي سبب نشي.

## رعايت حقوق بشری

**مادۀ چهارم :**

(۱) کارکنان مراکز اصلاح و تربيت اطفال ، څارنوالان ، قضات ، وساير اشخاصی که به نحوی از انحاء با اطفال مظنون ، متهم ومحکوم به حجز سرو کار دارند ، مکلف اند حين اجرای وظايف مربوط احکام اسلامی وموازين حقوق بشر را رعايت نموده، با آنها بدون هر نوع تبعيض طور بی طرفانه برخورد نمايند.

(۲) شرايط معيشتی اطفال مظنون، متهم ومحکوم به حجزازطرف ادارات مراکزاصلاح وتربيت اطفال طوری فراهم می شود که عاری از تاثيرات روانی بوده وسبب ضياع حقوق و جلوگيری ازآزادی آنها در مراکزاصلاح وتربيت اطفال نه گردد.

## د حقوقو محدوديت

**پنځمه ماده:**

**(۱) هغه حقوق چې د مظنونو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو لپاره ددې قانون د حکمونو مطابق اټکل شويدي، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د کارکوونکو لخوا محدود يا سلبېدی نشي، خو دا چې د اطفالو د اصلاح ا وروزنې د مرکزونو نظم، ډسپلين او امنيت له خطر سره مخامخ وي. پدې صورت کې د عدليې وزير کولی شي دغه حقوق قسماً د لنډ مهالې مودې لپاره محدود کړي. د حقوقو د محدوديت دلايل په اړوندو دوسيو کې درجېږي.**

**(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين کولی شي په استثنايي حالاتو کې له احتمالي خطرونو څخه د مخنيوي او د نظم او ډسپلين د تأمينېدو په منظور، احتياطي تدبيرونه ونيسي او د (۲۴) ساعتونو په موده کې د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د عمومي رئيس تأييد او د عدليې وزير**

## محدوديت حقوق

**مادهٔ پنجم:**

**(۱) حقوقی که برای اطفال مظنون، متهم یامحکوم به حجزمطابق احکام این قانون پیشبینی گردیده است،از طرف کارکنان مراکزاصلاح و تربیت اطفال محدود یا سلب شده نمی تواند ، مگر اینکه نظم، دسپلین وامنیت مراکزاصلاح و تربیت اطفال به خطر مواجه باشد،دراین صورت وزیر عدلیه می تواند این حقوق را قسماً برای مدت مؤقت محدود نماید. دلایل محدودیت حقوق در دوسیه های مربوط درج می گردد.**

**(۲) مسئولین مراکز اصلاح و تربیت اطفال می توانند در حالات استثنائی به منظور جلوگیری از خطرات احتمالی وتأمین نظم و دسپلین تدابیر احتیاطی را اتخاذ و در مدت (۲۴) ساعت کاری تائید رئیس عمومی مراکزاصلاح و تربیت اطفال**

منظوري رسماً پدې برخه کې واخلي او ورسره په يوهٔ وخت د اړوند ولايت والي ته رپوټ ورکړي.

(۳) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين مکلف دي، ددې مادې په (۱او ۲) فقره کې له درج شوو اجراآتو څخه اړوندې څارنوالۍ ته هم خبر ورکړي.

(۴) ددې مادې په (۱ او۲) فقره کې د درج شوو حالاتو د لرې کېدو په صورت کې، پدې قانون کې درج شوي حقوق او آزادۍ مظنونو،تورنو يا په حجز محکومو اطفالو ته اعاده کېږي.

## تر حجز لاندې اطفالو سره د کارکوونکو چلند

**شپږمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو کارکوونکي مکلف دي، له مظنونو، تورنو يا په حجز له محکومو اطفالو سره داسې مناسب چلند وکړي چې له خوشې کېدو وروسته،

ومنظوری وزير عدليه را رسماً در زمينه اخذ و هم زمان به والی ولايت مربوط اطلاع دهند.

(۳) مسئولين مراکز اصلاح و تربيت اطفال مکلف اند، از اجراآت مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده به څارنوالی مربوط نيز اطلاع دهند .

(۴) در صورت رفع حالات مندرج فقرهٔ های (۱و۲) اين ماده ، حقوق و آزادی های مندرج اين قانون ، به اطفال مظنون ، متهم يا محکوم به حجز اعاده می گردد.

## برخورد کارکنان با اطفال تحت حجز

**مادهٔ ششم:**

(۱)کارکنان مراکز اصلاح وتربيت اطفال مکلف اند با اطفال مظنون ، متهم يا محکوم به حجزطوری برخورد مناسب نمايندکه بعد ازرهايی ،

هغوی قانون ته د تابع اوسېدونکو په توګه ټولنې ته داخل شي.

(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي مظنون، تورن یا په حجز محکوم اطفال له قانوني حقوقو څخه د ښې ګټې اخستنې لپاره د سرغړونې د ډول، خصوصیاتو، عادتونو او ګډ احساس له نظره په جلا ګروپونو وویشي.

## دوه یم فصل

## د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو برخې

برخې

اوومه ماده:

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونه د لاندې دووبرخولرونکي دي:

۱- پرانستې برخه: هغه ځای دی چې له قانون څخه سرغړوونکي اطفال د ورځې لخوا هلته ساتل کېږي او تر بیا ښوونې او روزنې لاندې نیول کېږي او د شپې لخوا د هغوی د هرې ورځې د احضار په

ایشان به حیث شهروندان تابع قانون وارد جامعه گردند.

(۲)مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفال مکلف اند اطفا ل مظنون ، متهم یا محکوم به حجزراجهت استفادهٔ بهترازحقوق قانونی ، به گروپهای جداگانه نظربه نوعیت تخلف،خصوصیات،عادات واحساس مشترک تقسیم نمایند.

## فصل دوم

## بخش های مراکز اصلاح وتربیت اطفال

بخش ها

مادهٔ هفتم:

(۱)مراکز اصلاح وتربیت اطفا ل دارای دوبخش ذیل می باشد :

۱- بخش باز : محلی است که اطفال متخلف از قانون در آن از طرف روز نگهداری و تحت آموزش و تربیه قرار گرفته و از طرف شب به اساس ضمانت کتبی مبنی بر احضار همه روزهٔ

اړه د ليکلي ضمانت پر بنسټ د هغوی اولياوو يا قانونی ممثل ته سپارل کيږي.

۲- تړلې برخه: هغه ځای دی چې له قانون څخه سرغړوونکي اطفال شپه او ورځ د بيا ښوونې او روزنې په غرض هلته ساتل کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اطفالو د ساتنې ډول په هغې کړنلارې کې چې د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د عالي شوري لخوا تصويبيږي، د تنظيم شوې برنامې مطابق، تنظيمېږي.

پرانستې برخې ته لېږدول

**اتمه ماده:**

د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين کولی شي، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو په تړلې برخه کې د تر حجز لاندې اطفالو په تگلاره او سلوک کې د کتنې وړ مثبتوبدلونونو په صورت کې، هغوی د اړوندې محکمې له استيذان وروسته ،

آن ها به اوليا يا ممثل قانونی شان تسليم داده می شوند.

۲- بخش بسته: محلی است که اطفال متخلف از قانون شب وروز غرض آموزش و تربيه در آن نگهداری می شوند.

(۲)طرز نگهداری اطفال مندرج فقره (۱) اين ماده مطابق برنامه تنظيم شده در طرزالعملی که از طرف شورای عالی مراکز اصلاح وتربيت اطفال تصويب می شود ، تنظيم می گردد.

انتقال به بخش باز

**مادۀ هشتم :**

مسئولين مراکز اصلاح وتربيت اطفال می توانند در صورت تغييرات مثبت وقابل ملاحظۀ در روش و سلوک اطفال محکوم به حجز دربخش بسته مراکز اصلاح وتربيت اطفال ، ايشان رابعد از استيذان محکمه مربوط به

پرانستې برخې ته ولېږدوي.

**له پرانستې برخې څخه د نه ګټې اخستنې حالات**

**نهمه ماده:**

لاندې اطفال، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو پرانستې برخې ته نه لیږدول کیږي:

۱– هغه اطفال چې د محکمې په حکم د هغوی ساتنه خاصه څارنه او ساتنه ایجابوي.

۲– هغه اطفال چې بیا بیا د سرغړونې مرتکب شوي وي.

۳– هغه سرغړوونکي اطفال چې دمخه د اطفالو د اصلاح او روزنې له مرکزونو څخه تښتېدلي وي.

۴– هغه اطفال چې اولیا یا قانوني ممثل یې د هرې ورځې د احضار په اړه، ضمانت وړاندې نکړي.

۵– هغه اطفال چې د قتل، اختطاف او مخدرو موادو د قاچاق د جرمونو، مرتکب شوي وي.

٦– نورحالات داطفالود اصلاح او روزنې

بخش باز انتقال دهند.

**حالات عدم استفاده ازبخش باز**

**مادۀ نهم :**

اطفال ذیل دربخش باز مراکز اصلاح وتربیت اطفال انتقال شده نمی توانند:

۱ــ اطفالی که به حکم محکمه نگهداری آنها مراقبت و محافظت خاص را ایجاب نماید .

۲- اطفالی که متکرراً مرتکب تخلف گردیده باشند.

۳- اطفال متخلف ایکه قبلاً از مراکز اصلاح وتربیت اطفال فرار نموده باشند.

۴- اطفالی که اولیا یا ممثل قانونی آنها ضمانت احضار همه روزۀ آنها را ارائه نه نمایند.

۵- اطفالی که مرتکب جرایم قتل ، اختطاف و قاچاق مواد مخدر گردیده باشند.

٦– سایرحالات به پیشنهاد مسئولین

د مرکزونو د مسئولینو یا څارنوالۍ په وړاندیز او د واکمنې محکمې په تجویز.

**له ذکورو څخه د اناثو اطفالو جلا ساتل**

**لسمه ماده:**

مظنون، تورن یا په حجز محکوم ښځینه او نارینه اطفال، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو په دوارو برخو کې، په جلا توګه ساتل کېږي.

## درېیم فصل

## د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو تنظیم

**د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو جوړول**

**یوولسمه ماده:**

(۱) په هر ولایت کې د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونه، په دوو پرانستو او تړلو برخو کې جوړېږي.

(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو جوړېدل او بندېدل، د عدلیې وزارت واک دی.

مراکزاصلاح وتربیت اطفال یا څارنوالی وتجویز محکمه ذیصلاح .

**جدا نگهداشتن اطفال اناث از ذکور**

**مادۀدهم :**

اطفال مظنون، متهم یامحکوم به حجزاناث وذکور در هر دو بخش مراکز اصلاح و تربیت اطفا ل طور جداگانه نگهداری می شوند.

## فصل سوم

## تنظیم مراکز اصلاح وتربیت اطفال

**ایجاد مراکز اصلاح و تربیت اطفال**

**مادۀ یازدهم:**

(۱) در هر ولایت مرکز اصلاح وتربیت اطفال با دو بخش باز و بسته ایجادمی گردد.

(۲)ایجاد ومسدود ساختن مراکز اصلاح وتربیت اطفال ازصلاحیت وزارت عدلیه می باشد.

**(۳) د اطفالو د اصلاح او روزنــــې مرکزونه د اســــلامي ارزښــــتونو او بين المللي معيارونو له په پام کــې نيولو سره ودانېږي.**

**(۴) د عدليې وزارت مکلف دی، د اطفــــالو د اصــــلاح او روزنــــې د مرکزونو موجودې ودانۍ ، اسلامي ارزښتونو او د ملګرو ملتو د سازمان معيارونو ته په پام سره عيارې کړي.**

**د مظنونو، تورنو يا په حجـــز د محکومو اطفالو ساتنه**

**دوولسمه ماده:**

**(۱) مظنون او تورن اطفال د اطفالو د اصلاح او روزنې په هغو ولايتـــي مرکزونو کې ساتل کېـــږي چـــې قضيې يې هلته تر څېړنې لانـــدې دي.**

**(۲) په حجز محکوم اطفال د اطفالو د اصلاح او روزنې په هغو ولايتـــي مرکزونو کې ساتل کېږي چـــې د هغوی د کورنيو د اوسېدنې ځای ته نږدې وي.**

**(۳)مراکز اصلاح وتربيت اطفا ل با رعايت ارزش هـــای اســـلامی ومعيار های بين المللی اعمار مـــی گردد.**

**(۴) وزارت عدليه مکلف اســـت، ساختمانهای موجود مراکز اصلاح وتربيت اطفال را با رعايت ارزش های اسلامی ومعيارهای ســـازمان ملل متحد عيار نمايد.**

**نگهداری اطفال مظنون ومتهم يا محکوم به حجز**

**مادۀ دوازدهم:**

**(۱)اطـــفال مظنـــون ومـــتهم در مراکزاصلاح وتربيت اطفال ولايتی نگهداری می شوند که قـــضايای شان د رآنجا تحت رسيدگی قرار دارند.**

**(۲)اطفال محکـــوم بـــه حجـــز درمراکزاصلاح وتربيت اطـــــفال ولايتی نگهداری می شوند که بـــه محل سکونت فاميل هـــای شـــان نزديک باشند.**

**(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کې درج شوي اطفال د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره یوازې د رسمي سندونو له مخې د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې منل کېدی شي.**

**(۴) هغه تورن اطفال چې نسبتي دوسیې یې د قانون د حکمونو مطابق په ټاکلې موده کې بشپړې نشي، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو اداره مکلفه ده د ټاکلې مودې له پایته رسېدو پنځلس ورځې دمخه اړوندې څارنوالۍ او محکمې ته د یادې شوې مودې له بشپړېدو څخه په لیکلې توګه خبر ورکړي.په یاده شوې موده کې د ځواب د نه وړاندې کېدو په صورت کې د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو اداره تورن یا مظنون طفل خوشې کوي او د هغهٔ اولیا یا قانوني ممثل ته یې ورسپاری.**

**(۳) اطفال مندرج فقره های (۱و۲) این ماده با نظر داشت احکام قانون تنها برویت اسناد رسمی در مراکز اصلاح وتربیت اطفال پذیرفته شده می توانند .**

**(۴) اطفال متهمی که دوسیه های نسبتی شان طبق احکام قانون در مدت معینه تکمیل شده نتوانند ، ادارهٔ مراکز اصلاح وتربیت اطفا ل مکلف است پانزده روز قبل ازختم میعاد معینه به څارنوالی و محکمه مربوط از تکمیل مدت متذکره کتباً اطلاع دهد .درصورت عدم ارائه جواب،در مدت مذکور ادارهٔ مراکز اصلاح وتربیت اطفال ، طفل متهم یا مظنون را رهاوبه اولیا یا ممثل قانونی آن تسلیم می نماید.**

**د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عالي شوري**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د مظنونو، تورنو او تر حجز لاندې اطفالو د حقوقو د تأمینېدو، د اطفالو سرغړونوته د رسیدګۍ، د قانون د اغېزمن تطبیق او د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د فعالیتونو د پلټنې او ښه کولو او پدې برخه کې د لازمو تصمیمونو د نیولو په منظور، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عالي شوري په لاندې ترکیب سره جوړېږي:

۱- دعدلیې وزیر د رئیس په توګه.

۲- د سترې محکمې استازی د غړي په توګه.

۳- د لویې څارنوالۍ مرستیال د غړي په توګه.

۴- د کورنیو چارو وزارت معین د غړي په توګه.

۵- د پوهنې وزارت معین د غړي په توګه.

---

**شورای عالی مراکز اصلاح وتربیت اطفال**

**مادۀ سیز دهم :**

(۱) به منظور تأمین حقوق اطفال مظنون ، متهم ومحکوم به حجز، تطبیق مؤثرقانون رسیدگی به تخلفات اطفال، بررسی وبهبود فعالیت های مراکز اصلاح وتربیت اطفال واتخاذ تصامیم لازم در زمینه ، شورای عالی مراکز اصلاح وتربیت اطفال به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- وزیر عدلیه به حیث رئیس .

۲- نمایندۀ ستره محکمه به حیث عضو .

۳- مرستیال لوی څارنوالی به حیث عضو .

۴- معین وزارت امور داخله به حیث عضو .

۵- معین وزارت معارف به حیث عضو .

٦- د عامې روغتيا وزارت معين د غړي په توګه.

۷- د ښځو د چارو وزارت معين د غړي په توګه.

۸- د کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت معين د غړي په توګه.

۹- د ارشاد،حج او اوقافو وزارت معين د غړي په توګه.

۱۰- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معين د غړي په توګه.

۱۱- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسيون استازی د غړي په توګه.

۱۲- د عدليې وزير په ټاکنه د مدني ټولنې استازی د غړي په توګه.

۱۳- داطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عمومي رئيس د غـړي او منشي په توګه.

(۲) د کورنيو او بهرنيو مؤسسو هغه استازي چې د اطفالو د اصلاح او روزنې د بهبود په لاره کې فعاليت کوي، د بلنې په صورت کې

٦- معين وزارت صحت عامه به حيث عضو.

۷- معين وزارت امور زنان به حيث عضو.

۸- معين وزارت کار وامور اجتماعی، شهداومعلولين به حيث عضو.

۹- معين وزارت ارشاد،حج و اوقاف به حيث عضو.

۱۰- معين وزارت اطلاعات وفرهنگ به حيث عضو.

۱۱- نماينده کميسيون مستقل حقوق بشر افغانستان به حيث عضو.

۱۲- نماينده جامعهٔ مدنی به انتخاب وزير عدليه به حيث عضو.

۱۳- رئيس عمومی مراکز اصلاح وتربيت اطفال به حيث عضوومنشی.

(۲)نمايندگان مؤسسات داخلی و خارجی که درجهت بهبود اصلاح وتربيت اطفال فعاليت می نمايند ، در صورت دعوت می توانند به

کولی شي د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د عالي شوري په غونډه کې د ناظر په توگه گډون وکړي.

(۳) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عالي شوري واکمنو مقاماتو ته د اطفالو د اصلاح او روزنې د بهبود په هکله وړاندیزونه وړاندې کوي.

(۴) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عالي شوري کولی شي د ولایتونو په سطح د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د فعالیت د هم غږي کولو په منظور، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو ادارو له استازو څخه جوړې فرعي کمیټې را منځته کړي.

(۵) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د عالي شوري دندې او د فعالیت ډول د جلا لایحې په واسطه تنظیمېږي.

حیث ناظر در جلسات شورای عالی مراکز اصلاح وتربیت اطفا ل اشتراک نمایند.

(۳) شورای عالی مراکز اصلاح وتربیت اطفال پیشنهادات را در مورد بهبود اصلاح وتربیت اطفال به مقامات ذیصلاح ارائه می نماید.

(۴) شورای عالی مراکز اصلاح وتربیت اطفال می تواند به منظور هماهنگ ساختن فعالیت مراکز اصلاح وتربیت اطفال درسطح ولایات کمیته های فرعی متشکل از نمایندگان ادارات مندرج فقرهٔ (۱) این مادهٔ را ایجاد نماید .

(۵) وظایف وطرز فعالیت شورای عالی مراکزاصلاح وتربیت اطفال توسط لایحهٔ جداگانه تنظیم می گردد .

**د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د عالي شوري غونډې**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د عالي شوري عادي غونډې په هرو دريو مياشتو کې يو ځل جوړېږي او فوق العاده غونډې د رئيس د تصميم پر بنسټ يا د هغې د غړو د يوۀ ثلث په وړانديز جوړېدی شي.

(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د عالي شوري په غونډو کې تصميمونه د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت سره نيول کېږي.

**د تقنيني سندونو د تعديل او وضع کولو وړانديز**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عالي شوري کولی شي پدې قانون کې د لازمو تعديلونو وړانديز وکړي.

(۲) د اطفالو د اصلاح او

**جلسات شورای عالی مراکز اصلاح و تربیت اطفال**

**مادۀ چهاردهم :**

(۱) جلسات عادی شورای عالی مراکزاصلاح وتربیت اطفال درهرسه ماه یکبار دایر و جلسات فوق العاده آن به اساس تصمیم رئیس یا به پیشنهاد یک ثلث اعضای آن دایر شده می تواند.

(۲) تصامیم درجلسات شورای عالی مراکزاصلاح وتربیت اطفال به اکثریت آرای اعضای حاضراتخاذ می گردد.

**پیشنهاد تعدیل ووضع اسناد تقنینی**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱)شورای عالی مراکزاصلاح وتربیت اطفال می تواند تعدیلات لازم را دراین قانون پیشنهاد نماید.

(۲) شورای عالی مراکز اصلاح

روزنـــې د مركزونـــو عـــالي شوري كـــولی شـــي ددې قـــانون د حكمونو د ښه تطبيق په منظـــور، مقرره وړانديز او لايحې او كړنلارې وضع او تصويب كړي.

**د اطفالو د اصلاح او روزنې د مركزونو د امنيت تأمينول**

شپاړسمه ماده:

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مركزونو امنيت د كورنيـــو چـــارو وزارت لخوا تأمينيږي.

(۲) ساتونكي د دندې د اجراء پـــه وخت كې حق نلـــري د اطفـــالو د اصلاح او روزنـــې د مركزونـــو د برخو په دننه كې له ځانه سره وسله حمل كړي، د اطفالو د اصـــلاح او روزنې د مركزونو مسئولين كـــولی شي په استثنايي او خطرناكو حالاتو كې د وسلې حمل كولو ته اجـــازه وركړي او په هكله يې د دلايلو په يادولو سره د اطفالو د اصـــلاح او روزنې د مركزونو عمومي رياســـت

وتربيـــت اطفـــا ل ميتوانـــد بـــه منظورتطبيـــق بهتراحكـــام ايـــن قانون،مقرره را پيشنهاد و لـــوايح وطرزالعمـــل هـــا را وضـــع و تصويب نمايد.

**تأمين امنيـــت مراكزاصـــلاح وتربيت اطفال**

مادۀ شانزدهم :

(۱) امنيت مراكز اصلاح وتربيت اطفال از طرف وزارت امور داخله تأمين می گردد.

(۲) نگهبانـــان حـــين اجـــرای وظيفـــه حـــق ندارنـــد بـــداخل بخـــش هـــای مراكـــز اصـــلاح وتربيت اطفـــل بـــاخود اســـلحه حمل نمايند ، مـــسئولين مراكـــز اصلاح وتربيت اطفال می تواننـــد در حالات استثنائی و خطرنـــاک حمـــل ســـلاح را اجـــازه داده و در زمينـــه راپـــورآنرا بـــا ذكـــر دلايل به رياست عمومی مراكـــز اصلاح وتربيـــت اطفـــا ل ارائـــه

ته د هغې رپوټ ورکړي.

## څلورم فصل

## د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې د خدمتونو وړاندې کول

**معيشت**

**اوولسمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې دمرکزونو مسئولين مکلف دي اړوندې پرانستې او تړلې برخې په مناسبو روغتيايي وسايلو سمبال او چاپېريال يې په سمه او پاکه توګه وساتي.

(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين د هر مظنون، تورن او په حجز محکوم طفل لپاره چپرکټ او د خوب جلا بستره برابروي.

(۳) د عدليې وزارت دعامې روغتيا وزارت او نورو اړوندو ادارو په همکارۍ د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د مساحت، د اوسېدنې د

نمايند.

## فصل چهارم

## عرضهٔ خدمات در مراكز اصلاح و تربيت اطفال

**معيشت**

**مادهٔ هفدهم :**

(۱)مسئولين مراكز اصلاح وتربيت اطفال مكلف اند بخش های بازوبستهٔ مربوط را با وسايل صحی مناسب مجهز ومحيط آن رابه صورت درست و نظيف نگهداری نمايند.

(۲)مسئولين مراكز اصلاح وتربيت اطفال، برای هرطفل مظنون ،متهم ومحكوم به حجز،چپركت وبسترخواب جداگانه راتهيه می نمايد.

(۳) وزارت عدليه به همكاری وزارت صحت عامه وساير ادارات ذيربط درمورد محل بودوباش ، مساحت ،اندازهٔ روشنی اتاق وامور

ځای، د خونې د رڼایي د اندازې او په تهویې او تسخین پورې د اړوندو چارو په هکله لازم تدبیرونه نیسي.

**اعاشه**

**اتلسمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي مظنونو، تورنو او په حجز محکومو اطفالو ته د سن،روغتیایي او موسم د شرایطو له په پام کې نیولو سره، صحي اوبه او غذا په وړیا توګه برابر کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې غذایي مینو دعامې روغتیاوزارت په مشوره ترتیب او د وزیرانو شورې له خوا منظوره او کمیت او کیفیت یې داړوند روغتیایي ټیم لخوا څارل کېږي.

**روغتیایي خدمتونه**

**نولسمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې دمرکزونو مسئولین مکلف دي،

مربوط به تهویه وتسخین مراکز اصلاح وتربیت اطفال تدابیرلازم رااتخاذمی نماید.

**اعاشه**

**مادۀ هجدهم:**

(۱)مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفا ل مکلف اند برای اطفال مظنون، متهم ومحکوم به حجزبانظر داشت سن ، شرایط صحی وموسم ، آب و غذای صحی را طور رایگان تهیه نمایند.

(۲)مینوی غذایی مندرج فقرۀ (۱) این ماده به مشورۀ وزارت صحت عامه ترتیب وازطرف شورای وزیران منظور وکمیت وکیفیت آن از طرف تیم صحی مربوط نظارت می گردد.

**خدمات صحی**

**مادۀ نزدهم:**

(۱)مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفال مکلف اند ، برای اطفال

مظنونو، تورنو او په حجز محکومو اطفالو ته د عامې روغتيا وزارت په همکارۍ وړيا روغتيايي خدمتونه برابر کړي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي ناروغ طفل تداوي او درملنه د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې شونې نه وي، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکز مسئول کولی شي د مؤظف ډاکتر د وړانديز پر بنسټ ناروغ د اطفالو د اصلاح او روزنې له مرکز څخه بهر مناسب روغتون ته ولېږدوي او اړونده څارنوالۍ له خپلو اجراآتو څخه خبره کړي.

داصلاح دمرکزمسئول مکلف دی، د پوليسو په همکارۍ، د هغهٔ د امنيت د تأمينېدو په غرض احتياطي لازم تدبيرونه ونيسي.

مظنون متهم ومحکوم به حجز خدمات صحی رايگان را به همکاری وزارت صحت عامه فراهم نمايند.

(۲) در صورتی که تداوی ومعالجهٔ طفل مريض مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در مراکز اصلاح وتربيت اطفال ممکن نه باشد، مسئول مرکز اصلاح وتربيت اطفال می تواند به اساس پيشنهاد داکترمؤظف، مريض را به شفاخانهٔ مناسب خارج از مرکز اصلاح و تربيت اطفال انتقال و څارنوالی مربوط را ازاجراآت خويش مطلع سازد.

مسئول مرکز اصلاح مکلف است، به همکاری پوليس ، تدابيرلازم احتياطی را غرض تأمين امنيت وی فراهم نمايد.

**د روغتيايي قواعدو په پام کـــې نيول**

**شلمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې مؤظف ډاکتر مکلف دی د روغتيايي او حفظ الصحې د قواعدو د په پام کې نيولو لپــاره، ورځنۍ غذا کنترول او د مظنونـــو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو د اوسېدو خونې او خدمتونــه پــه اوونۍ کې لږ تر لږه دوه ځلي معاينه کړي.

(۲) په ساري ناروغيو اخته اطفال، په خاصو برخو کې او لــه نـــورو اطفالو څخه جلا ساتل کېږي.

**د کار، ښوونې، زده کـــړې او عبادت دزمينې برابرول**

**يوويشتمه ماده:**

د اطفالو د اصــلاح او روزنـــې د مرکزونو مسئولين مکلف دي، پـــه اړوندو پرانستو او تړلو برخو کـــې سمبال کتابتونونه جوړ او د کار او

**رعايـــــــت قواعـــــــد صحى**

**مادۀ بيستم:**

(۱) داکترمؤظـــف درمرکـــز اصلاح وتربيت اطــفال مکلـــف است، جهت رعايت قواعد صحى وحفظ الصحه، غـــذاى روزمـــره را کنتـــرول وحـــد اقـــل هفتـــۀ دوبار اتـــاق هـــاى بودوبـــاش و خـــدمات اطفـــا ل مظنـــون ، مـــتهم ومحکـــوم بـــه حجـــز را معاينه نمايد.

(۲)اطفال مبتلا به امراض سارى در قسمت هاى خاص و جدا از ساير اطفال نگهدارى مى شوند.

**فراهم ساختن زمينۀ کار، تعليم، آموزش وعبادت**

**مادۀ بيست ويکم:**

مسئولين مراکز اصلاح وتربيـــت اطفال مکلف اند در بخش هـــاى بازوبستۀ مربوط کتابخانـــه هـــاى مجهزرا تأسيس وزمينۀ عبـــادت،

ټولنيزو چارو او پوهنې وزارتونو په همکارۍ د عبادت، مطالعې، کار، ښوونې او روزنې، حرفوي زده کړې، فرهنګي او تفريحي فعاليتونو زمينه او نورې لازمې اسانتياوې برابرې کړي.

## پنځم فصل

## د حجز د مودې د تېرولو ډول

د دوسيې ترتيب

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين مکلف دي مظنونو، تورنو او په حجز محکومو اطفالوته دطفل د سوابقود معلوماتو، روغتيايي کتنو او سوابقو او په هغهٔ پورې د نورو اړوندو معلوماتو لرونکې دوسيې ترتيب کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اطفال په اړونده دوسيه کې د درج شوو معلوماتو پر بنسټ ګروپ بندي کېږي.

مطالعه،کار، تعليم وتربيه، اموزش حرفوی ، فعاليت های فرهنگی وتفريحی وساير سهولت های لازم را با همکاری وزارت های کار و امور اجتماعی ومعارف فراهم نمايند.

## فصل پنجم

## طرز سپری نمودن مدت حجز

ترتيب دوسيه

**مادهٔ بيست ودوم:**

(۱)مسئولين مراکز اصلاح وتربيت اطفال مکلف اند برای اطفال مظنون، متهم ومحکوم به حجز دوسيه های حاوی معلومات سوابق طفل،معاينات و سوابق صحی وساير معلومات مربوط وی راترتيب نمايند.

(۲) اطفال مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده به اساس معلومات درج شده دردوسيه مربوط گروپ بندی می گردند.

## په خاصو حالاتو کې اړینه مفاهمه

**درویشتمه ماده:**

(۱) داطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته د مظنونو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو له داخلېدو یا لېږدېدو څخه، د هغوی اولیاوو یا قانوني ممثل ته خبر ورکړي.

(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي د مظنونو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو د خپلوانو له مړینې یا مزمنو او خطرناکو ناروغیو څخه د خبر د ترلاسه کېدو په صورت کې، هغوی ته خبر ورکړي.

خپلوان پدې منظور دطفل له پلار، مور، ورو، خور، نیکه او انۍ څخه عبارت دي.

## مفاهمهٔ ضروری در حالات خاص

**مادهٔ بیست وسوم:**

(۱) مسئولین مراکزاصلاح وتربیت اطفال مکلف اند از دخول یا انتقال اطفال مظنون، متهم و محکوم به حجز در مراکز اصلاح وتربیت اطفال ، به اولیا یا ممثل قانونی شان اطلاع دهند.

(۲)مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفا ل مکلف اند در صورت دریافت اطلاع از وفات یا مریضی های مزمن وخطرناک اقارب مظنون ،متهم و محکوم به حجز برای شان اطلاع دهند .

اقارب بدین منظورعبارت از پدر، مادر، برادر ، خواهر ، پدر کلان ومادرکلان طفل می باشد.

## له کورنۍ سره ارتباط

**څلېريشتمه ماده:**

(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين مکلف دي د مظنونو،تورنو او په حجز د محکومو اطفالو له کورنيو سره د ليدنو، پُست او نورو هغو وسايلو له لارې چې نظم ګډوډ نکړي ، د هغوی د ارتباط د تأمينولو زمينه برابره کړي.

(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين مکلف دي ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اطفالو ليدنه و څاري او د هغوی ليکونه و پلټي.

## تدفين

**پنځه ويشتمه ماده:**

که چېرې مظنون، تورن او په حجز محکوم طفل مړ شي، د ميت جسد د هغۀ د خپلوانو په موافقه يا د واکمنې محکمې په تجويز د مړينې د علت د تثبيتېدو په منظور، د کتنې په غرض عدلي طب ته استول کېږي

## ارتباط با فاميل

**مادۀ بيست وچهارم:**

(۱) مسئولين مراکز اصلاح وتربيت اطفال مکلف اند زمينه تأمين ارتباط اطفال مظنون ، متهم و محکوم به حجز را با فاميل های شان ازطريق ملاقات، پست وساير وسايلی که نظم را مختل نه سازد ، فراهم نمايند.

(۲) مسئولين مراکز اصلاح وتربيت اطفال مکلف اند ملاقات اطفال مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را نظارت و مراسلات آنها را طبق احکام اين قانون تفتيش نمايند.

## تدفين

**مادۀ بيست وپنجم:**

هرگاه طفل مظنون، متهم ومحکوم به حجز فوت گردد، جسد او به اساس موافقۀ اقارب اش ياتجويزمحکمۀ ذيصلاح به منظورتثبيت علت فوت غرض معاينه به طب عدلی فرستاده شده

او د عدلي طب د نظر له څرګندېدو وروسته د طفل خپلوانــو تــه ور تسليمېږي. د خپلوانو د نه شتون په صورت کې يا د عدلي طب له کتنې وروسته د نعش له تسليمۍ څخه د هغوی د ډډې کولو په صورت کې، ميت د اطفالو د اصلاح او روزنې د ادارې په واسطه تکفين او تدفينېږي.

رخصتي

شپږويشتمه ماده:

(۱) له کورنۍ او د اطفالو د اصلاح او روزنې له مرکزونو څخه له بهــر چاپېريال او ټولنې سره د مظنونــو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو د اړيکيو د ښه ساتلو او د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو دننه او په بهر کې له قانون څخه د تابعيت د احساس د تأمينولو پــه منظــور، د اطفالوداصلاح او روزنې د مرکزونو په تړلو برخو کې د حجز د حالاتو او مودې له په پام کې نيولو ســره، تر شلو ورځو مودې پورې هغوې ته رخصت ورکول کېږي.

وبعداز ابرازنظرطب عــدلی بــه اقارب طفل تسليم داده می شود. در صورت عدم موجوديت اقارب يــا امتنـــاع آنهـــا از تـــسليمی نعـــش بعـــد از معاينــــه طـــب عدلی، ميت توســـط اداره مرکـــز اصلاح وتربيت اطــفال تکفـــين وتدفين می گردد .

رخصتی

مادۀ بيست وششم:

(۱) بـــه منظـــور حفـــظ بهتـــر روابــــط اطفـــــا ل محکــــــوم به حجــز بــا فاميــل ، محــيط واجتمـــاع بيـــرون از مراکـــز اصلاح وتربيت اطفـــا ل وتــأمين احـــساس تابعيــت از قـــانون در داخل وخارج از مراکز اصـــلاح وتربيت اطفال برای آنها با نظـــر داشت حــالات ومــدت حجــز دربخش هـــای بـــسته مراکـــز اصلاح وتربيت اطفال الی مـــدت بيـــــست روز رخـــــصت داده می شود .

**(۲) ددې قانون د (۲۳) مادې په (۲) فقره کې په درج شوو حالاتو کې اړوند څارنوال واک لـري د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکز د مسئول په وړانديز تر حجز لاندې اطفالو ته د خپلوانو د عيـادت يـا تدفين په غرض تر اوو ورځو مودې پورې کورته د تللو اجازه ورکړي. له دغې اجازې څخه د ګټې اخستنې ډول له احوالو سره سم د څارنوال لخوا مشخصېږي.**

**(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې له درج شوو حدودو څخـه چـې د څارنوال لخوا مشخص شوي دي، د ګټې اخستنې په وخت کې دمظنون، تورن او په حجز د محکوم طفل د سرغړونې په صورت کې د اطفالو د اصـلاح او روزنـې د مرکزونـو مسئولين واک لري اجازه لغو او له موضوع څخه اړوند څارنوال تـه خبر ورکړي.**

**(۴) ددې مادې په (۱ او۲) فقـره کې د درج شوو رخصتيو موده، د**

**(۲)در حالات مندرج فقـره (۲) مادۀ (۲۳) این قانون، څـارنوال مربوط صلاحيت دارد به اسـاس پيشنهاد مسئول مرکـز اصـلاح وتربيت اطفال برای اطفال محکوم به حجز غرض عيـادت ياتـدفين اقارب الـی مـدت هفـت روز اجازه رفتن به خانـه را بدهـد. طـرز اسـتفاده از ايـن اجـازه حسب احوال ازطرف څـارنوال مشخص می گردد.**

**(۳) در صـورت تخطـی طفـل محکوم به حجـزحين اسـتفاده ازحـدود منـدرج فقـرۀ(۲) اين ماده که توسـط څـارنوا ل مشخص گرديده است ، مسئولين مراکـز اصـلاح و تربيـت اطفـا ل صـلاحيت دارنـد ، اجـازه را لغـو واز موضـوع به څـارنوا ل مربـوط اطـلاع بدهند.**

**(۴) مدت رخصتی های منـدرج فقره های (۱و۲) اين مـاده در**

**حجز په دوره کې محاسبه کېږي.**

**(۵) ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوې رخصتۍ څخه د ګټې اخستنې ډول د مقررې په واسطه تنظيمېږي.**

**د تر حجز لاندې اطفالو مکلفيتونه**

**اووه ويشتمه ماده:**

**(۱) مظنون، تورن او په حجز محکوم اطفال مکلف دي د اطفالو داصلاح اوروزنې د مرکزونود برخو کورنی نظم او انضباط، د اړوندو لايحو مطابق په پام کې وساتي.**

**(۲) مظنون، تورن او په حجز محکوم طفل چې په خپل عمل سره د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکز منقولې او غير منقولې شتمنۍ ته عمداً زيان واړوي،مکلف دی دقانون دحکمونومطابق هغه جبران کړي.**

**د اووښتي زيان حجم او د هغۀ د جبران ډول د فني هيئت په واسطه**

**دورۀ حجز محاسبه می گردد.**

**(۵) طرز استفاده از رخصتی مندرج فقرۀ (۱) این ماده توسط مقرره تنظیم می گردد.**

**مکلفیت های اطفال تحت حجز**

**مادۀ بیست وهفتم :**

**(۱)اطفال مظنون، متهم ومحکوم به حجز مکلف اند نظم وانظباط داخلی بخش های مراکز اصلاح وتربیت اطفال را طبق لوایح مربوط رعایت نمایند.**

**(۲) طفل مظنون، متهم ومحکوم به حجز که با عمل خویش به دارائی منقول و غیر منقول مرکز اصلاح وتربیت اطفال عمداً خساره وارد نماید ، مکلف است مطابق احکام قانون آنرا جبران نماید.**

**حجم خساره وارده توسط هیئت فنی تعیین و به اطلاع طفل**

**تاکل کېږي او د مظنون، تورن او په حجز د محکوم طفل او د هغهٔ د اولیاوو یا قانوني ممثل خبرتیا ته رسول کېږي. په هغهٔ صورت کې چې زیان په رضاکارانه توګه جبران نشي، محکمه پدې هلکه دقانون دحکمونوسره سم تجویز نیسي.**

**جلا ساتل (قرنطین)**

**اته ویشتمه ماده:**

**مظنون، تورن او په حجز محکوم اطفال په لاندې حالاتو کې په جلا ځایونو کې ساتل کېږي:**

**۱– دساري ناروغیو یا دایمي نور و روغتیایي معاذیرو له کبله.**

**۲– د نظم د ګډوډولو یا دوامدارې شخړې په صورت کې چې د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکز د کارکوونکو د اجراآتو خنډ شي.**

**۳– په هغهٔ صورت کې چې طفل تر استنطاق لاندې وي.**

**۴– نور حالات چې په اړوندو لایحو او کړنلارو کې اټکل شوي دي.**

---

**مظنون، متهم ومحکوم به حجزو اولیا یا ممثل قانونی شان رسانیده می شود .در صورتی که خساره طوررضا کارانه جبران نگردد، محکمه در مورد مطابق احکام قانون تجویز اتخاذ می نماید.**

**جدا نگهداشتن (قرنطین)**

**ماد ۀبیست وهشتم:**

**اطفال مظنون ، متهم ومحکوم به حجز در حالات ذیل در محلات جداگانه نگهداری می شوند:**

**۱– درصورت داشتن امراض ساری یا سایر معاذیر صحی دایمی .**

**۲– در صورت اخلال نظم یا آشوبگری دوامدارکه مانع اجراآت قانونی کارکنان مرکز اصلاح وتربیت اطفال گردد.**

**۳– درصورتی که طفل تحت استنطاق قرار داشته باشد.**

**۴– سایر حالاتی که در لوایح وطرزالعمل های مربوط پیشبینی گردیده است.**

**تلاشي**

**نهه ويشتمه ماده:**

**(۱) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولين مکلف دي، مظنون، تورن او په حجز محکوم اطفال د ننوتلو او وتلو په وخت کې پداسې توګه چې د هغوی وقار او حيثيت ته زيان و نه رسيږي، تلاشي کړي.**

**(۲) د اطفالو تلاشي ، دهغو د هم جنسو مسئولينو په واسطه صورت مومي.**

**هڅونه**

**دېرشمه ماده:**

**په هغهٔ صورت کې چې مظنون، تورن او په حجز محکوم اطفال د ټولګي، د کارګاه دننه او کتابتون نظم او انضباط او د تفريح وخت په ښه توګه په پام کې ونيسي او په زده کړه ييزو او روزنيزو چارو کې برخه واخلي او سم سلوک له ځانه ښخه وښيې، د اطفالو د اصلاح او**

**تلاشی**

**مادهٔ بيست ونهم :**

**(۱)مسئولين مراکز اصلاح وتربيت اطفال مکلف اند، اطفال مظنون ، متهم ومحکوم به حجز را حين دخول به مراکز اصلاح وتربيت اطفال وخروج از آن طوريکه به وقار و حيثيت آنها لطمه وارد نه گردد ، تلاشی نمايند.**

**(۲) تلاشی اطفال توسط مسئولين هم جنس آنها صورت می گيرد.**

**تشويق**

**مادهٔ سی ام:**

**در صورتی که اطفال مظنون ، متهم ومحکوم به حجزنظم وانظباط صنف ، داخل کارگاه ، کتابخانه ووقت تفريح را به وجه احسن رعايت ودر امور آموزشی وتربيتی سهم گرفته وروش نيک از خود نشان دهند، ازطرف مراکز اصلاح وتربيت اطفال**

روزنې د مرکزونو لخوا له احوالو سره سم په لاندې توګه هڅول کېږي:

۱- شفاهي تحسين.

۲- په افتخاري لوحه کې د نوم درجول.

۳- د تحفې ورکول.

۴- له رخصتۍ څخه په ګټه اخستنه کې د اولويت د حق ورکول.

## تأديب

**يو دېرشمه ماده:**

(۱) په هغهٔ صورت کې چې مظنون، تورن او په حجز محکوم اطفال د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د برخو نظم او ډسپلين په پام کې و نه نيسي، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د مسئولينو لخوا له احوالو سره سم په لاندې توګه تأديبېږي:

۱- په انفرادي توګه خبرداری ورکول.

۲- په عام محضر کې خبرداری ورکول.

۳- له کورنۍ سره له تماس څخه منع کول.

حسب احوال ذيلاً مورد تشويق قرار می گيرند:

۱- تحسين شفاهی .

۲- درج اسم در لوحهٔ افتخاری .

۳- اعطای تحفه .

۴- اعطای حق اولويت در استفاده از رخصتی .

## تأديب

**مادهٔ سی ويکم:**

(۱) در صورتی که اطفال مظنون، متهم ومحکوم به حجز نظم ودسپلين مراکز اصلاح وتربيت اطفال را رعايت نه نمايند ، از طرف مسئولين مراکز اصلاح وتربيت اطفال حسب احوال ذيلاً تأديب می گردند:

۱ - هشدار به شکل انفرادی.

۲- هشدار در محضر عام.

۳- منع تماس با فاميل .

۴- له رخصتۍ څخه محرومول.

(۲) غير انساني او تحقير آميزه تأديب او نور هغه اعمال چې د مظنون، تورن او په حجز د محکوم طفل جسمي يا رواني سلامت له خطر سره مخامخ کړي، منع دي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج د مظنونو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو ډله ييز تأديب جواز نلري.

## په دوسيه کې د هڅونې او تأديب درجول

**دوه دېرشمه ماده:**

د مظنونو،تورنواوپه حجز دمحکومو اطفالو د هڅونې او تأديب بشپړ سوابق د هغو د دلايلو له يادولو سره يو ځای په اړوندو دوسيو کې درج او ساتل کيږي.

## شکايتونه

**دري دېرشمه ماده:**

(۱) مظنون، تورن او په حجز

۴- محروم نمودن ازرخصتی .

(۲) تأديب غير انسانی و تحقير آميزو ساير اعمالی که سلامت جسمی يا روانی طفل مظنون ،متهم ومحکوم به حجز را به خطرمواجه سازد، ممنوع می باشد.

(۳) تأديب دسته جمعی اطفال مظنون، متهم ومحکوم به حجز در موارد مندرج فقرۀ (۱) اين ماده جواز ندارد.

## درج تشويق و تأديب دردوسيه

**مادۀ سی ودوم:**

سوابق کامل تشويق و تأديب اطفال مظنون ، متهم و محکوم به حجزتوأم باذکر دلايل آن در دوسيه های مربوط درج ونگهداری می گردد.

## شکايات

**مادۀ سی وسوم:**

(۱)اطفال مظنون ، متهم و محکوم

محکوم اطفال حق لري شخصاً یا دخپلواولیاوو یاقانوني ممثل له لاری د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونومسئولینو، د اطفالوداصلاح او روزنې د مرکزونو عمومي رئیس، ښارنوال، عدلیې وزیر، د افغانستان د بشر د حقوقو کمېسیون اوملي شوري ته خپل شفاهي او لیکلي شکایتونه وړاندې کړي.

(۲) هغه شکایت او عریضه چې له ښارنوالی، محکمو یا نورو دولتي ادارو سره اړه مومي، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو په واسطه د (۲۴) ساعتونو په موده کې په محرمانه توګه، اړوندو مراجعو ته استول کېږي.

(۳) ددې مادې په (۱ او۲) فقره کې درج شوې مراجع مکلفې دې د شکایت د لرې کولو او هغۀ ته د رسیدګۍ په هکله د قانون دحکمونو په حدودوکې لازم تصمیمونه ونیسي.

به حجز حق دارند شخصاً یا از طریق اولیا یا ممثل قانونی شان به مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفال، رئیس عمومی مراکز اصلاح وتربیت اطفال، ښارنوال ، وزیرعدلیه،کمیسیون مستقل حقوق بشرافغانستان وشورای ملی شکایت شفاهی وکتبی تقدیم نمایند.

(۲) شکایت و عریضۀ که به ښارنوالی ، محاکم ، یا سایرادارات دولتی ارتباط می گیرد ، توسط مراکز اصلاح و تربیت اطفال در مدت (۲۴) ساعت طور محرمانه به مراجع مربوط ارسال می گردد.

(۳) مراجع مندرج فقره های (۱و۲) این ماده مکلف اند در مورد رفع شکایت و رسیدگی به آن در حدود احکام قانون تصامیم لازم اتخاذ نمایند.

## شپږم فصل

## وروستني حکمونه

**لېږد**

**څلوردېرشمه ماده:**

د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو له یوې برخې څخه بلې برخې ته په حجز د محکومو اطفالو لېږدېدل پدې قانون کې د درج شوو واکمنو مقاماتو له استیذان پرته،صورت نشي موندلی.

(۲) په حجز محکوم اطفال چې د جزاء په قانون کې د درج شوي حکم مطابق،د(۱۸) کلنی سن بشپړ کړي، محبسونو ته لېږدول کېږي.

(۳) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي، محبسونو ته د اطفالو له لېږدېدو څخه څارنوالی ، اړوندې محکمې، اولیاوو یا د هغوی قانوني ممثل ته خبر ورکړي.

(۴) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي، د

## فصل ششم

## احکام نهائی

**انتقال**

**مادۀ سی وچهارم:**

(۱)انتقال اطفال محکوم به حجز ازیک بخش به بخش دیگرمراکز اصلاح وتربیت اطفال بدون استیذان مقامات ذیصلاح مندرج این قانون صورت گرفته نمی تواند.

(۲)اطفا ل محکوم به حجزکه سن (۱۸) سالگی را مطابق حکم مندرج قانون جزا تکمیل نمایند، به محابس انتقال می گردند.

(۳)مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفال مکلف اند از انتقال اطفا ل به محابس ، څارنوالی ، محکمهً مربوط ، اولیا یا ممثل قانونی شان اطلاع دهند.

(۴) مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفال مکلف اند سوابق

طفل سوابق او اړونــده دوســيه، روغتيايي تصديق او نور اجنــاس او شيان چې په هغهٔ پورې مربوط وي هم ولېږدوي.

(۵) څارنوالی، د اطفالو اختصاصي محکمې يا محبسونو ته د مظنونو او تورنو اطفالو د لېږدېدو ډول د جلا لايحې په واسطه تنظيمېږي.

## د تورن طفل خوشې کېدل

پنځه دېرشمه ماده:

(۱) تورن طفل په لاندې حالاتو کې خوشې کېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې څارنوال د خوشې کولو قرار صادر کړي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې محکمه په برائت باندې حکم صادر کړي.

۳- ددې قانون د دوولسمې مادې په (۴) فقره کې پــه درج شــوي حالت کې.

(۲) ددې مــادې د (۱) فقــرې د حکم د تطبيق لپاره د څــارنوال د قرار نقل يا د حکم د ابلاغ پارچه د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو

ودوسيه ، تصديق صحی وســاير اجناس و اشيای طفل را که مربوط وی مــی باشــد ، نيــز انتقــا ل نمايند.

(۵) طرزانتقال اطفال مظنون ومتهم به څارنوالی ومحکمه اختــصاصی اطفال يا محابس توســط لايحــه جداگانه تنظيم می گردد.

## رهائی طفل متهم

مادهٔ سی وپنجم:

(۱) طفل متهم در حالات ذيل رها می گردد:

۱- در حالتی که څارنوال قــرار رهائی را صادر نمايد.

۲- در حالتی که محکمه حکم به برائت صادر نمايد.

۳- درحالـــت منـــدرج فقـــره (۴)مـــادهٔ دوازدهـــم ايـــن قانون .

(۲)جهت تطبيق حکــم منــدرج فقره (۱) اين ماده ،نقــل قــرار څارنوال يا پارچه ابــلاغ حکــم به مراکز اصلاح وتربيت اطفــا ل

ته سپارل کېږي.

**په حجز د محکوم طفل خوشې کېدل**

شپږدېرشمه ماده:

(۱) په حجز محکوم طفل په لاندې حالاتو کې خوشې کېږي:

۱- د محکوم بها مودې د پايته رسېدو په حالت کې.

۲- د عمومي يا خصوصي عفو په حالت کې.

۳- دنوې کتنې پر بنسټ دمحکمې د نهايي حکم د لغو په حالت کې، پداسې توګه چې نوی حکم په برائت يا له حجز پرته مجازاتو باندې تمام شي چې موده يې د مخه د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې تېره شوې وي.

۴- د مشروطې خوشې کېدنې په حالت کې.

۵- په هغو نورو حالاتو کې چې په قانون کې اټکل شوي وي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د

سپرده می شود.

**رهائی طفل محکوم به حجز**

مادۀسي وششم:

(۱)طفل محکوم به حجز در حالات ذیل رها می گردد:

۱- در حالت ختم مدت محکوم بها.

۲- در حالت عفو عمومی یا خصوصی.

۳- درحالت لغو حکم نهائی محکمه براساس تجدید نظر ، به نحوی که حکم جدید منجربه برائت یا مجازات غیر از حجز گردیده که مدت آن قبلاً در مراکز اصلاح وتربیت اطفا ل سپری شده باشد.

۴- درحالت رهائی مشروط.

۵- در سایر حالاتی که در قانون پیشبینی شده باشد.

(۲)جهت تطبیق احکام مندرج

درج شوو حکمونو د تطبیق لپاره د خوشې کېدو د سند نقل رسماً د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو اداري ته سپارل کېږي.

(۳) د اطفالو د اصلاح او روزنې دمرکزونو مسئولین، حق نلري په حجز محکوم طفل د محکوم بها له مودې څخه زيات د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې وساتي.

(۴) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي، د پولیسو او څارنوالۍ ادارو ته د طفل له خوشې کېدو دمخه خبر ورکړي.

**د اطفالو د اصلاح او روزنې له مرکزونوڅخه څارنه**

**اووه دېرشمه ماده:**

(۱) د څارنوالۍ اداره د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې د قانونیت پر تطبیق باندې د څارنې او د بشر د حقوقو د موازینو د کنترول واکمنه مرجع ده.

فقرهٔ (۱) این ماده نقل سند رهائی به ادارهٔ مرکز اصلاح وتربیت اطفال رسماً سپرده می شود.

(۳)مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفال ، حق ندارد طفل محکوم به حجز را اضافه از مدت محکوم بها درمراکز اصلاح وتربیت اطفال نگهداری نمایند.

(۴)مسئولین مراکزاصلاح وتربیت اطفال مکلف اند ، ادارات پولیس و څارنوالی را قبل از رهائی طفل اطلاع دهد.

**نظارت از مراکز اصلاح وتربیت اطفال**

**مادهٔ سي وهفتم:**

(۱)ادارهٔ څارنوالی مرجع با صلاحیت نظارت بر تطبیق قانونیت وکنترول موازین حقوق بشر در مراکز اصلاح وتربیت اطفال می باشد.

(۲) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو مسئولین مکلف دي، د قانون د حکمونو او د بشر د حقوقو د په پام کې نیولو په اړه د څارنوال تولې غوښتنې په نظر کې و نیسي،او د هغو مطابق اجراآت وکړي.

## د څارنې کمیټه

**اته دېرشمه ماده:**

(۱)د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د کورني نظم له په پام کې نیولو او له مظنونو،تورنو او په حجز له محکومو اطفالو سره د اړوندو کارکوونکو د چلند له ډول څخه د څارنې په منظور، په مرکز او ولایتونو کې د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د څارنې کمیټه په لاندې ترکیب سره جوړېږي :

۱- د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکز مسئول د رئیس په توګه.

۲- د څارنوالۍ د ادارې استازی د غړي په توګه.

۳- د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکز د ښوونې او روزنې آمر د

(۲)مسئولین مراکز اصلاح وتربیت اطفال مکلف اند، تمام مطالبات څارنوال مبنی بر رعایت احکام قانون و موازین حقوق بشر را در نظر گرفته ، مطابق آن اجراآت نمایند.

## کمیتهٔ نظارت

**مادهٔ سی وهشتم :**

(۱) به منظورنظارت ازرعایت نظم داخلی مراکز اصلاح وتربیت اطفال وطرز برخورد کارکنان مربوط با اطفال مظنون ،متهم ومحکوم به حجز، کمیتهٔ نظارت مراکز اصلاح و تربیت اطفا ل درمرکزو ولایات به ترکیب ذیل ایجاد می گردد :

۱- مسئول مرکز اصلاح وتربیت اطفال به حیث رئیس .

۲- نمایندهٔ ادارهٔ څارنوالی به حیث عضو .

۳- آمر تعلیم وتربیهٔ مرکز اصلاح وتربیت اطفا ل به حیث

غړي په توګه.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې کميټه په هرو پنځلسو ورځو کې يو ځل د اطفالو د اصلاح او روزنې د اړوندو مرکزونو له برخو څخه ليدنه کوي اوخپل رپوټ رسماً د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عمومي رياست ته استوي.

(۳) د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونوعمومی رياست رسېدلي رپوټونه توحيدوي او د قانوني تصميمونو دنيولو لپاره يې عدليې وزير ته وړاندې کوي.

(۴) د عدليې وزير رپوټ يا د هغۀ يوه برخه د قانوني تصميم د نيونې لپاره د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو عالي شوري ته احاله کولی شي.

**د اطفالو د اصلاح او ورزنې مرکزونو ته ننوتل**

**نهه دېرشمه ماده:**

(۱) هېڅ شخص نشي کولی د

عضو .

(۲) کميتۀ مندرج فقرۀ (۱) اين ماده درهر پانزده روزيکبار ازبخش های مرکزاصلاح وتربيت اطفال مربوط ديدن نموده ، گزارش خويش را به رياست عمومی مراکز اصلاح وتربيت اطفال رسماً ارسال می نمايد .

(۳) رياست عمومی مراکز اصلاح وتربيت اطفال گزارشات واصله راتوحيد وغرض اتخاذ تصاميم قانونی به وزيرعدليه ارائه می نمايد.

(۴) وزيرعدليه گزارش يا بخش ازآن راغرض اتخاذ تصميم قانونی به شورای عالی مراکز اصلاح وتربيت اطفال محول نموده می تواند.

**دخول به مراکز اصلاح وتربيت اطفال**

**مادۀ سي ونهم:**

(۱)هيچ شخص نمی تواند بدون

عدليې وزارت له اجازې پرته د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته ننوزي.اړوند مسئولين اومؤظفين د څارنوال او مدافع وکيل په شمول،لدې حکم څخه مستثنىٰ دي.

(۲) لاندې اشخاص کولی شي د دمخه اجازې له اخستلو پرته د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته ننوزي:

۱– جمهور رئيس، د هغهٔ مرستيالان او وزيران.

۲– د سترې محکمې رئيس او غړي.

۳– د ملي شوري د مجلسونو رئيسان او د هغوی نائبان.

۴– د ملي شوري غړي، د ولايتي شوراګانو رئيسان او واليان د هغوی د اړوند ولايت د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته.

۵– لوی څارنوال.

٦– د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسيون رئيس.

۷– د اطفالو د اصلاح او روزنې د

اجازهٔ وزارت عدليه به مراكز اصلاح وتربيت اطفال داخل شود.مسئولين و مؤظفين به شمول څارنوال و وكيل مدافع مربوط از اين حكم مستثنىٰ اند.

(۲) اشخاص ذيل مى توانند بدون اخذ اجازه قبلى به مراكز اصلاح وتربيت اطفال داخل شوند:

۱– رئيس جمهور ، معاونين وى و وزراء.

۲–رئيس و اعضاى ستره محكمه .

۳– رؤساى مجلسين شوراى ملى ونائبان آنها .

۴– اعضاى شوراى ملى،رؤساى شورا هاى ولايتى ووالیان به مراكز اصلاح وتربيت اطفال ولايت مربوط شان.

۵– لوى څارنوال .

٦– رئيس كميسيون مستقل حقوق بشر افغانستان.

۷– اعضاى شوراى عالى مراكز

مرکزونو د عالي شوري غړي.

**د مدني ټولنې نقش**

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) نادولتي مؤسسې او هغه ټولنيز سازمانونه چې د ټولنيزو خدمتونو په سرته رسولو بوخت دي، کولی شي د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د برخو په دننه کې فعاليت وکړي، پدې شرط چې د تورن يا په حجز د محکوم طفل په ګټه وي او د اسلام د مبين دين د حکمونو او عقايدو مخالف نه وي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې د عدليې وزارت د دمخه او ليکلې اجازې اخستل حتمي دي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مؤسسو د فعاليت ډول، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د مسئولينو لخوا، له اړوندې څارنوالۍ سره له سلا وروسته، ټاکل کېږي.

اصلاح وتربيت اطفال.

**نقش جامعۀ مدنی**

**مادۀ چهلم:**

(۱)مؤسسات غير حکومتی وسازمانهای اجتماعی ايکه مصروف انجام خدمات اجتماعی اند ، می توانند که در داخل بخش های مراکز اصلاح وتربيت اطفال فعاليت نمايند، مشروط براين که به نفع طفل متهم يا محکوم به حجز باشد ومخالف احکام دين مبين اسلام نباشد .

(۲)در حالت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده اخذ اجازۀ قبلی و کتبی وزارت عدليه حتمی می باشد.

(۳)طرز فعاليت مؤسسات مندرج فقرۀ (۱) اين ماده از طرف مسئولين مراکز اصلاح وتربيت اطفا ل ، بعد از مشوره با څارنوالی مربوط تعيين می گردد.

**د فلم او رپوټ برابرول**

**يو څلوېښتمه ماده:**

**دخبريالانو او رسنيو په واسطه د اطفالو د اصلاح او روزنې له مرکزونو او د مظنونو، تورنو او په حجز له محکومو اطفالو څخه د غږ لرونکي رپوټ برابرول، د عکس او فلم اخستل، د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو او د مظنونو، تورنو او په حجز د محکومو اطفالو له اجازې پرته جواز نلري.**

**انفاذ**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

**دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.**

**تهيۀ فلم وراپور**

**مادۀ چهل ويکم :**

**تهيۀ راپور صدا دار و گرفتن عکس وفلم ازمراکز اصلاح وتربيت اطفال واطفال مظنون ، متهم ومحکوم به حجز توسط خبرنگاران ورسانه ها بدون اجازۀ مراکز اصلاح وتربيت اطفال و مظنون ،متهم ومحکوم به حجز جواز نه دارد.**

**انفاذ**

**مادۀ چهل ودوم:**

**اين قانون ازتاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمى نشر گردد.**

Download from: aghalibrary.com